کله دې چې هغه کسان ولیدل چې لدې آیتونو څخه د متشابهاتو پسې ګرځي نو همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی یې یادونه کړې ده نو ځان ترې وساتئ

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی چې وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ، وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ، وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} [آل عمران: 7]. یعنې : (دی هغه ذات دی چې په تا باندې یې کتاب نازل کړی دی، په ده کې ځینې محکم (ښکاره مراد والا) آیتونه دي؛ چې هغه د کتاب اصل دي، نور یې متشابهات (پټ مراد والا) دي، نو هغه کسان چې د هغوی په زړونو کې کور والی دی؛ نو هغوی په هغو (آیتونو) پسې کېږي چې په دې (قرآن) کې متشابه (پټ مراد والا) دي، د فتنې لټولو لپاره او د هغو د مراد معلومولو لپاره، حال دا چې د هغوی په تاویل (مراد) باندې نه پوهېږي مګر الله، او هغه کسان چې په علم کې پاخه دي؛ هغوی وایي: مونږ پر ده ایمان راوړی دی، ټول (محکم او متشابه آیتونه)زمونږ د رب له جانبه دي، او پند نه اخلي مګر د صفا عقل خاوندان). عائشه رضي الله عنها وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: « کله دې چې هغه کسان ولیدل چې لدې آیتونو څخه د متشابهاتو پسې ګرځي نو همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی یې یادونه کړې ده نو ځان ترې وساتئ».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم دا آیت ولوست: {هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ وَمَا يَعْلَمُ تَأْوِيلَهُ إِلَّا اللَّهُ وَالرَّاسِخُونَ فِي الْعِلْمِ يَقُولُونَ آمَنَّا بِهِ كُلٌّ مِنْ عِنْدِ رَبِّنَا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّا أُولُو الْأَلْبَابِ} چې پدې کې الله پاک خبر ورکوي چې دی هغه ذات دی چې پر خپل پیغمبر یې قرآن نازل کړی، له هغه څخه ځینې د څرګند دلالت لرونکي آیتونه دي چې حکمونه یې معلوم دي، هېڅ ناڅرګندوالی پکې نشته، نو دا د کتاب اصل او مرجع دی، او د اختلاف پر مهال ورته رجوع کیږي، او داسې نور آیتونه هم شته چې له یو څخه زیاتې معناوې لري، چې معنا یې پر ځینو خلکو ګډوډویږي او یا ګمان کوي چې د هغه او بل آیت تر منځ تضاد دی، بیا الله تعالی لدې آیتونو سره د خلکو تعامل په ډاګه کړ، نو د هغه چا په زړونو کې چې له حق څخه کوروالی شتون ولري، هغوی محکم آیتونه پریږدي او احتمالي متشابه آیتونو باندې عمل کوي، پدې سره غواړي چې شکونه او شبهې راوپاروي او خلک ګمراه کړي او پدې سره غواړي چې آیتونه د خپلې خوښې پر اساس تاویل کړي، او هغه کسان چې په علم کې ثابت دي، نو هغوی پر دې متشابهاتو پوهیږي او محکمو آیتونو ته یې راجع کوي او ایمان پرې لري چې دا د الله پاک له لورې دي، او شوني نده چې تعارض او ګډوډي دې سره ولري، مګر دا هغه څه دي چې پدې یوازې د سالم ذهن لرونکي خلک پند اخلي. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم د مؤمنانو مور عایشې رضی الله عنها ته وفرمایل چې: کله یې دا ډول خلک ولیدل چې د متشابهاتو پسې ګرځېدل نو یقینا همدوی هغه کسان دي چې الله تعالی یې پدې وینا کې یادونه کړې ده چې فرمایي: {فأما الذين في قلوبهم زيغ} (یعني او هغه کسان چې په زړونو کې یې کوروالی دی) نو له هغوی څخه ځان وساتئ او غور ورته مه نیسئ.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65062